دافغانستان اسلامي امارت
د ارشـــــاد، حــــج او اوقافــــــو وزارت
د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست
دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

اول/ صفر المظفر /۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۲۶ / سرطان/۱۴۰۵هـ، ش

# د خوراکي توکو د احتکار دُنيوي او أُخروي زيانونه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الكريم الوهاب، المعطي بغير حساب، الهادى إلى الخير من أناب وأشهد أن لا إله إلاّ الله وحده لا شريك له، شهادة تنجى قائلها من العذاب، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله المبعوث بالحق والصواب، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه أولى الألباب وسلم إلى يوم الفصل والمآب، أما بعد:قال الله سبحانه وتعالى: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ).(۱)

**درنو حاضرينو او قدرمنو اوريدونکو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

زمونږ د نن ورځې موضوع (د خوراکي توکو د احتکار دُنيوي او أُخروي زيانونه) ده.

لکه چې مونږ او تاسو ټولو ته معلومات دی، چې د هيواد په اکثرو سيمو کې غنم لَو شوي دي او په سړو سيمو کې لوونه جاري دي او په ځينو ولاياتو کې لوبيا او نور غله دانې هغه هم لَو شوي دي. همدارنگه يو څه وخت وروسته د وريجو لوونه کيدونکي دي.

بدبختانه ځينې کسان او تاجران د لَوونو په وخت کې غلې دانې اخلي او هغه ذخيره کوي او کله چې په بازار کې د خوارکي توکو نرخ لوړ شي ، نو بيايې بازار ته راوباسي او په لوړ قيمت يې خرڅوي.

دا هغه کار دی چې دُنيوي او أُخروي زيات زيانونه لري او مسلمان ته په کار دي چې دداسې کار څخه ځان وساتي.

خوراکي توکي اخيستل او هغه په دې نيت ذخيره کول چې کله يې نرخ په بازار کې لوړ شي خرڅ به يې کړي ، په شريعت کې دي کار ته (احتکار) ويل کيږي.

---

[۱]-النساء: (۲۹)

علامه موصلي رحمه الله د احتکار په تعریف کې لیکلي دي: ( والاحتكار أن يبتاع طعاما من المصر أو من مكان يجلب طعامه إلى المصر ويحبسه إلى وقت الغلاء).(۲)

ژباړه: احتکار دادی چې (څوک) واخلي خوراکي توکي د ښار څخه او یا د هغه ځای څخه له کوم ځای څخه چې ښار ته خوراکي توکي واردېږي او هغه (خوراکي توکي) ذخیره کړي د قیمت د لوړیدو د وخت پورې.

مفتی به قول دادی چې احتکار یواځې په خوراکي توکو کې معتبر دی.(۳)

د خوراکي توکو احتکار کول گناه ده او د قرآن کریم د الفاظو عموم یې په حُرمت دلالت کوي.

د احتکار د حراموالي حکمت؛ له خلکو څخه د ضرر دفع کول دي. امام نووي رحمه الله لیکلي دي:(الْحِكْمَة فِي تَحْرِيم الِاحْتِكَار دَفْع الضَّرَر عَنْ عَامَّة النَّاس ، كَمَا أَجْمَعَ الْعُلَمَاء عَلَى أَنَّهُ لَوْ كَانَ عِنْد إِنْسَان طَعَام ، وَاضْطُرَّ النَّاس إِلَيْهِ وَلَمْ يَجِدُوا غَيْره ، أُجْبِرَ عَلَى بَيْعه دَفْعًا لِلضَّرَرِ عَنْ النَّاس) .(٤)

ژباړه: د احتکار په تحریم کې حکمت د عامو خلکو څخه د ضرر دفع کول دي، د همدې وجې نه علماوو په دې اجماع کړی ده په دې چې که چیرې د یو انسان سره خوراکي توکی وي او خلک ورته اړتیا ولري او ددغه خوراکي توکو څخه نور توکی نه مومي، مجبوره کولی به شي دغه شخص په خرڅولو د خوراکي توکو د خلکو څخه د ضرر ددفع کولو په خاطر.

الله جل جلاله په باطلو لارو د مسلمانانو د مال خوړل منع کړی دی.الله جل جلاله فرمایلی دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ).(٥)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) مه خورئ تاسې مالونه د یو بل په منځونو خپلو کې په ناروا سره.

**د استدلال وجه:** د احتکار د لارې څخه د مسلمانانو مال خوړل هم په حقیقت کې د مسلمانانو د مال په باطله لار خوړل دي،ځکه احتکار د شریعت خلاف عمل دی او په غیر شرعي لارو د مسلمانانو د مالونو په باطله سره خوړل دي.

په احتکار کې خوراکي توکي اکثره د ثروتمندو خلکو په واک کې وي او فقیران ورڅخه محروم وي؛ ځکه چې په احتکار کې مقصد داوي چې خوراکي توکي ثروتمند ډله او اغنیاء احتکار کوي او بیایې ثروتمند او اغنیاء په فقیرانو خرڅوي او د فقیرانو څخه د استحصال په توگه استفاده کیږي، چې دا کار د شرعي اقتصاد له مقاصدو څخه خلاف عمل دی. دشرعي اقتصاد تقاضا داده چې خوراکي توکي باید بازار ته عرضه شي ترڅو خان او غریب یوشان خپلې اړتیاوې ورڅخه پوره کړي .

---

[۲] - الاختيار لتعليل المختار (٤/ ١٧١)

[۳] - رد المحتار (۲۷/ ۹)

[٤] - شرح النووي على مسلم (٥/ ٤٨٢)

[٥] -النساء: (۲۹)

الله تعالی د غنیمت د توزیع په هکله فرمایلي دي:(مَا أَفَاءَ اللَّهُ عَلَى رَسُولِهِ مِنْ أَهْلِ الْقُرَى فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ كَيْ لا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ كَيْ لا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ).(٦)

ترجمه: هغه شی چې را گرځولی دی الله پر رسول خپل باندې له (مالونو د) اهل د قریو کلیو (بی جنگه) نو (هغه) دی الله لره او رسول (د الله) لره. او (دغه اموال دي) خپلوانو د رسول (الله) لره او (دغه اموال دي) یتیمانو لره او مسکینانو لره او مسافرانو لره (مقرر کړی دی الله دا قسمت)لپاره د دې چې ونه گرځي (دغه اموال) دولت په منځ د غنیانو کې له تاسې څخه (چې له خپله حقه زیات واخلي او فقراوو ته لږ ورکړي).

په یو بل مبارک آیت کې راځي:( مَنَّاعٍ لِلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ).(٧)

ترجمه: منع کوونکی د خیره له حده تېرېدونکی (په ظلم کې) ډېر گنهگار.

**داستدلال وجه:** ددې مبارک آیت سبب ورود ولو که خاص دی، خو داچې په معنا کې یې عموم پروت دی او د(خیر) څخه د قرآن کې په اکثرو آیتونو کې مال مراد دی. په احتکار کې هم د مال منع کول دي له خلکو څخه او خلک په تنگسی کې اچول دي.

علماء کرامو احتکار په کبیره گناهونو کې شامل کړی دی، څکه چې د مُتحکر په هکله په احادیثو کې سخت وعید ذکر شوی دی.

په حدیث شریف کې راځي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ ». (٨)

ژباړه: چاچې احتکار وکړ ، نو هغه به گناهگار وي.

ددې حدیث په بل لفظ کې راځي ، نبي علیه السلام فرمایلي دي:« لاَ يَحْتَكِرُ إِلاَّ خَاطِئٌ ».(٩)

ژباړه: احتکار نه کوي ؛ مگر گناهگار.

په یو بل روایت کې راځي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ احْتَكَرَ حُكْرَةً، يُرِيدُ أَنْ يُغْلِيَ بِهَا عَلَى الْمُسْلِمِينَ، فَهُوَ خَاطِئٌ».(١٠)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې عمل د احتکار وکړ او غوښتل یې چې په احتکار سره نرخونه لوړ کړي پر مسلمانانو ، نه داسې شخص گناهگار دی.

---

٦ -الحشر:(٧)

٧ -القلم: (١٢)

٨ - صحیح مسلم (٥/ ٥٦)

٩-کما مرَّ سابقاً

١٠ - مسند أحمد مخرجا (١٤/ ٢٦٥)

ددې حدیث په شرح .کې امام نووي رحمه الله لیکلي دي:(الخاطئ: هو العاصي الآثم).(۱۱)

ژباړه: خاطئ: هغه نافرمانه او ګناهګار ته ویل کیږي.

نو څوک چې د الله تعالی نافرماني او عصیان کوي ، هغه ګمراه دی.الله تعالی فرمایلي دي:(وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلالاً مُبِيناً).(۱۲)

ترجمه: او هر څوک چې اطاعت نه کوي د الله او د رسول دالله پس په تحقیق ګمراه شوی په ګمراهی ښکاره سره.

او څوک چې د الله تعالی څخه نافرماني او عصیان کوي ، د هغه لپاره د جهنم اور دی. الله تعالی فرمایلي دی:(وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَداً).( ۱۳)

ترجمه: او هر هغه څوک چې نافرماني کوي د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم د دغه (الله) نو بېشکه هغه لره دی اور د دوزخ حال دا چې تل به وي په هغه کې همېشه (چې نه به خلاصیږي ترې هیچېرې).

حضرـــت علقمه بن مَرثد رحمه الله وایي:(وَيْحَكَ يَا ابْنَ آدَمَ، هَلْ لَكَ بِمُحَارَبَةِ اللَّهِ مِنْ طَاقَةٍ، إِنَّهُ مَنْ عَصَىــ اللَّهَ تَعَالَى، فَقَدْ حَارَبَهُ).(۱٤)

ژباړه: هلاک شئ ای ابن آدمه! آیا ته د الله تعالی سره د جګړې توان لرې؟ بیشکه چاچې د الله تعالی څخه نافرماني وکړه ، په حقیقت ده د الله تعالی سره جګړه وکړه.

امام ابن حجر هیثمي رحمه الله په خپل کتاب کې احتکار (۸۸) اتیا اتیاومه کبیره ګناه ګرځولي ده.(۱۵)

په احتکار کې په خلکو ظلم کول دي ، ځکه هغه څه چې په ښار کې خرڅول کیږي ، نو په هغې پورې د ټولو خلکو حق تړاو لري او کله چې خرڅوونکی په ښـار کې د خوراکي توکو له خرڅولو څخه ممانعت وکړي سره ددې چې خلک ورته شدیده اړتیا ولري ، نو ده د خلکو څخه د هغوی حق منع کړ او د مستحقینو څخه د هغوی حق منع کول پر هغوی ظلم کول دي او ظلم کول حرامه کړنه ده او په حراموالي کې لږه موده او زیاته موده دواړه یو شان حکم لري، ځکه چې ظلم په دواړو حالتونو کې متحقق کیږي.(۱٦)

او الله تعالی په خلکو د ظلم کول حرام کار ګرځولی دی. په یو قدسي حدیث شریف کې راځي: «يَا عِبَادِي إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسِي، وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكُمْ مُحَرَّمًا، فَلَا تَظَالَمُوا».(۱۷)

ژباړه: ای زما بنده ګانو ! ما پر خپل ځان ظلم کول حرام کړی دی او ستاسې ترمنځ مې هم ظلم کول حرام کړی دی، نو یو پر بل ظلم مه کوئ.

---

۱۱ - شرح النووي على مسلم (۱۱/ ٤۳)

۱۲ -الاحزاب: (۳٦)

۱۳ -الجن:( ۲۳)

۱٤ - حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (۲/ ۱۳٤)

۱۵ - الزواجر (۱/ ٤٥۱)

۱٦- بدائع الصنائع (۵/ ۱۲۹)

۱۷ - صحيح مسلم (٤/ ۱۹۹٤) رد المحتار (۲۷/ ۹)

په حديث شريف کې راځي:عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً، فَقَدْ بَرِئَ مِنَ اللَّهِ تَعَالَى، وَبَرِئَ اللَّهُ تَعَالَى مِنْهُ».[۱۸]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه دنبي عليه السلام څخه روايت کوي او وايي چې نبي عليه السلام وفرمايل: چاچې احتکار کړل خوراکي توکي څلوېښت شپې ، نو په تحقيق سره دا شخص بيزاره شو د الله تعالی څخه او الله تعالی بيزاره شو دده څخه.(يعنې الله تعالی دده د مرستې او نصرت څخه بيزاره شو د ضرورت په وخت کې).[۱۹].

علامه ان عابدين شامي رحمه الله ليکلي دي: چې څلويښت شپې احتکار شوی توکي به دنيا کې جزاء ده لکه تعزيراً د احتکار شـــوي مال خرڅول او دا نيته د گناه لپاره نه ده ،بلکې که څوک د کم وخت لپاره احتکار وکړي ، نو هغه گناهکار دی ولو که احتکار کمه موده هم وي.[۲۰]

د احتکار له دُنيوي سزاوو څخه يوه سزا داده چې د محتکر جسم به الله تعالی په جذام مرض اخته کړي او محتکر به په مالي لحاظ به مفلس شي. په يو روايت کې راځي، څوک چې خوراکي توکي احتکار کړي ، الله تعالی به يې په جذام مرض يا په افلاس باندې مبتلاء کړي.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنِ احْتَكَرَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ طَعَامَهُمْ، ضَرَبَهُ اللَّهُ بِالْجُذَامِ وَالْإِفْلَاسِ».[۲۱]

ژباړه: د حضرت عمرفاروق رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې ماد رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: څوک چې احتکار کړي پر مسلمانانو د هغوی خوراکي توکي ، مسلط به کړي الله تعالی پر ده باندې جذام مرض او افلاس.

د خوراکي توکو په احتکار کې په خلکو سختي او تنگسي راوستل کيږي؛ حال داچې داسلام سپيڅلي دين مونږ او تاسې ته امر کړی دی، چې په خلکو آساني راولئ او له تنگسی څخه يي راوباسئ. د همدې وجې نه اسلامي شريعت ټول هغه معاملات حرام گرځولي دي چې په هغې کې خلکو ته ضرر او نقصان پيښيږي او د اخيستونکو ترمنځ بغض او کينه پيداکوي او يا اسلامي ورور ولي زيانمنوي، لکه د هغه مال اخيســتو پســې له ښـار څخه بيرون وتل چې ښـار ته واردېدونکي وي (تلقي الرکبان).يا لکه د مسلمان ورور په بيع باندې بيع کول. يا لکه د نجش بيع کول.

اسلامي اخلاق خو دادي چې مسلمان د اخيستلو او خرڅولو پر وخت مهربانه او زړه سوانده اوسي. په حديث شريف کې راځي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا سَمْحًا إِذَا بَاعَ، وَإِذَا اشْتَرَى، وَإِذَا اقْتَضَى».[۲۲]

ژباړه: الله تعالی دې رحم وکړي په مهربانه او سخي سړي باندې کله چې خرڅول کوي او کله چې اخيستل کوي او کله چې د قرضداري څخه د قرض مطالبه کوي.

---

۱۸ - مسند أحمد ت شاکر (٤/ ٤٣٧) وصحح احمد شاکرسنده.

۱۹ - رد المحتار (۲۷/ ۹)

۲۰ - رد المحتار (۲۷/ ۹)

۲۱- سنن ابن ماجه (۲/ ۷۲۹) وحَسَّن سنده الامام ابن حجر والحافظ ابن کثير في مسند الفاروق. فتح الباري لابن حجر (٦/ ٤٥٥)،مسند الفاروق لابن کثير (۱/ ۳٤۸)

۲۲ - صحيح البخاري (۳/ ۵۷)

د اسلامي اصولو څخه دادي چې د محتاج حاجت غنيمت ونه ګڼل شي بلګې هغه ته د مرستې لاس ورکړل شي او حاجت يې پوره کړل شي.

په حديث شريف کې راځي.رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:« الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللَّهُ فِي حَاجَتِهِ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ».[٢٣]

ژباړه: مسلمان د مسلمان ورور دی، ظلم به ورباندې نکوي، او دښمن ته به يې نه سپاري(يا په مشکلاتو کې به يې يواځې نه پرېږدی) او څوک چې د مسلمان ورور د حاجت په رفع کولو کې وي ، وي به الله تعالی دده د حاجتونو په رفع کولو کې او چاچې لرې کړ مصيبت او سختي د يو مسلمان څخه ، لرې به کړي الله تعالی دده څخه سختي د قيامت له سختيو څخه.

په ځانګړې توګه د هغه چا په باره کې سخت وعيد راغلی دی چې پر مسلمانانو ګراني او قيمتي راولي. په حديث شريف کې راځي.

قال معقل بن يسار سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:«مَنْ دَخَلَ فِي شَيْءٍ مِنْ أَسْعَارِ الْمُسْلِمِينَ لِيُغْلِيَهُ عَلَيْهِمْ، فَإِنَّ حَقًّا عَلَى اللهِ أَنْ يُقْعِدَهُ بِعُظْمٍ مِنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».[٢٤]

ژباړه: حضرت سليمان بن يسار رضي الله عنه وايي چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل به يې: څوک چې داخل شي په څه شي د نرخونو د مسلمانانو کې ددې لپاره چې نرخونه ورباندې ګران او قيمته کړي، بيشکه حق دي (تفضلاً) په الله چې کينوي ده لره په لوی اور باندې د قيامت په ورځ.

د هغه چا په حال افسوس په کار دی چې د څو روپور د لاسته راوړلو په خاطر خوراکي مواد احتکار کوي او خلک په حرج ، تنګسی کې اچوي.

په احتکار کوونکي شخص باندې په احاديثو کې لعنت ويل شوی دی.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -:«الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ، وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ».[٢٥]

ژباړه: د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ورادوونکی د خوراکي موادو بازار ته ، هغه ته رزق ورکړل شوی دی او احتکار کوونکی ملعون دی.

علامه ابن عابدين رحمه الله د (ملعون) په ترجمه کې وايي: د نيکانو له درجې څخه لرې کړل شوی ، ځکه که چيرې د الله رحمت څخه په لرې والي ترجمه شي، نو د الله تعالی د رحمت څخه دلري والي ترجمه د کافر په حق کې ده.[٢٦]

**اقول قولي هذا استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**.

---

[٢٣] - صحيح البخاري ت (٦/ ٢٢٧)

[٢٤] - مسند أحمد ط الرسالة (٣٣/ ٤٢٦)، مسند أبي داود الطيالسي (٢/ ٢٤٢)

[٢٥] - سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٣/ ٢٨٢)

[٢٦] - رد المحتار (٢٧/ ٩)